مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی
۲۰۲۳/۰۷/۱۹

# نړیوالې ټولنې

## ۶۴ برخه

**هغه ټولنې چې څانګړی واکونه لري**

**ــ د مالي اقدام ځانګړی ډله Financial Action Task Force (FATF)**

دا بین المللي ټولنه په کال ۱۹۸۹ کې د -G7 هیوادونو له خوا په پاریس کې، د پیسو له سپینولو سره د مبارزې د پاره جوړه شوه. په ۲۰۰۱ کې د ترهګرو د مالي سرچینو بندول هم د FATFپه دندو کې وشمارل شول.

له دې وروسته د FATF اهداف نور هم پراخ شول. په کال ۲۰۱۲ کې د ترهګریزو چارو د تبلیغ،انتشار،اشاعت او خپرولو د مالي سرچینو وچولو دنده هم FATF ته وسپارل شوه او په پای کې مالي جرمونه (د ترهګرو مالي مرسته، د ترهګریزو چارو د تبلیغ، انتشار،اشاعت او خپرونو سره مرسته، د پیسو سپینول او داسې نور) هم د FATF د کارونو په لست کې شامل شول.

دا ډله د خپلو سپارښتونو د عملي کولو په برخه کې د غړو هیوادونو پرمختګونه او د ټولې نړۍ له پاره د سپارښتونو د تصویب او څار دنده په غاړه لري. FATF د نړۍ هیوادونه په درېو برخو ویشي:

لومړی هغه هیوادونه چې د FATF سپارښتنې یې سل په سلو کې په پام کې نیولې دي،چې د نړۍ ډېر پرمختللي او هوسا هیوادونه په لړ کې راځي،

دویم هغه هیوادونه چې د FATF د سپارښتنو په عملی کولو بوخت او پرمختګونه یې ښکاره دي.

دریېمه ډله هیوادونه هغه دي چې له FATF سره مرسته نه کوي او د پیسو د سپینولو او د ترهګرو د مالي تمویل له سرچینو څخه شمېرل کېږي. دا هیوادونه په خپلو کې دوه ډلې دي:

لومړي هغه هیوادونه چې متقابله اقدام ورسره نه کېږي،

دویم هغه هیوادونه چې په تور لیست کې دي او هم یې په ضد متقابله اقدام کېدای شي،

اوس د نړۍ له ټولو هیوادونو څخه ۱۸۸ د FATF دوه کنوانسیونونه منلي او عملي کړي؛ خو ایران او شمالي کوریا د دې سندونو د منلو په توسن د FATF په تور لیست کې راغلي دي.[1]

FATF د پیسو د سپینولو له پاره یو ۴۰ ماده یي سند لري. ښکاره خبره ده چې د FATF غړي هیوادونه بېلابېل قوانین او مالي سیستمونه لري او ډېر معیارونه په ټولو یو شان نه شي تطبیق کېدای، له همدله امله د FATF پاسنی سند داسې برابر شوی چې د ټولو غړو له پاره اجرایي وی او هم د غړیو هیوادونو د پولي راکړې ورکړې قانوني بهیر ته خنډ پېښ نه کړي.

FATF هر وخت د هغه هیوادونو لستونه خپروی چې مالي مقررات یې کمزوري وي او پیسې سپینوي او له خپلو غړو او نورو هیوادونو څخه غواړي چې په خپلو اقتصادي فعالیتونو او دوه اړخیزو اړیکو کې د پیسو دغیرقانونیسپیناوی او ترهګرو دلو مسایل په پام کې ونیسي.

FATF د کال ۲۰۱۵ په لست کې ایران او شمالي کوریا خطرناک هیوادونه وبلل . ایران ژمنه کړی وه چې په کال ۲۰۱۶ کې به د FATF سپارښتنې په پام کې ونیسي. له همدې امله متقابل اقدام یو کال وځنډول شو. ځینو هیوادونو د FATF د مشرتابه په دې پرېکړه نیوکې هم وکړې.

که څه هم چېد نړیوالو حقوقو له مخې د FATF پریکړه د کوم رسمي بندیز په معنی نه ده؛ خو داسې هیوادونه خپل ځانونه ګوښې (منزوي) بولي او مالي ستونزې ګالي.

کله چې د یو هیواد نوم د FATF په خطرناکو هیوادونو کې ولیکل شي او یا (نه همکار) وبلل شي، د نړۍ مالي ټولنې او بانکونه د داسې هیواد له شرکتونو او بانکونو سره احتیاط کوي او ان دا چې ورسره اړیکې نه نیسي او یا یې بانکونه تحریم کړي.

جوړښت: د FATF په اوسنی قضایي مشرتابه کی ۳۷هیوادونه ( او دوه سیمه ییزه ټولنې) حضور لرې.

الف- قضایي غړي: ارجنتاین، استرالیا، استریا، بلجیم، برازیل، کانادا، چین، ډنمارک، فنلند، فرانسه، جرمنی، یونان، هانګ کانګ، آیسلند، هند، ایرلند جمهوریت، اسرایل، ایتالیا، جاپان، جنوبي کوریا، هالند، لوکزامبروګ، مالیزیا،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مکسیکو، هالند، نیوزیلند، ناروې، پرتګال، روسیه، سنګاپور، جنوبي افریقا، اسپانیا، سویډن، سویټزرلند، ترکیه، برتانیا او امریکا متحده ایالات.
سیمه ییزه ټولنې: د اروپا کمېسون او GCC هېوادونه.
دا ټولنه ګڼ شمیر اشوسیت ملګرې او د OECD، OSCE ، UNCTAD، WB، UNODC، IDA، IAIS، ECB او EBRD په شان تر ۲۵ ډېر څارونکی لری.
غړیتوب: FATF ټول ۱۸۸ غړي هیوادونه لری . اندونیزیا، مصر، ګریناداد، ګواتیمالا، هنګری، میانمار، نایجیر او اوکراین هغه هیوادونه دی چې په FATF کی غړیتوب نه لری؛ خو اندونیزیا د څارونکی دریځ لری.[2]

**۱۰– جی اته ډله -G8**

دا بنسټ په کال ۱۹۷۳ کې، د امریکا متحده ایالاتو، برتانیا، فرانسي او لوېديځې جرمني له خوا جوړ شو. هغه وخت دا ډله G4 یا د کتابتون ډله يادېده؛ ځکه بنسټ ايښودونکي غونډه يې د سپيني مانۍ په کتابتون کې جوړه شوې وه. اقتصادي ستونزو، لوړې وزګارتیا او د تېلو د بازار ګډوډیو، د دې څلورو هېوادونو د اقتصاد وزيران، دې ته اړ ايستل چې په ستونزو باندې د برلاسي له پاره، سره جرګه شي. دوی هڅه کوله چې د اقتصادي حل او خپل ځواک او دريځ د پخوا په څېر پیاوړی وساتي.
په کال ۱۹۷۵ کې د جاپان او ایتالیا په راتګ سره دا ډلهG ۶ شوه. په کال ۱۹۷۶ کې کانادا، د امریکا په هڅو د سترو صنعتي هېوادونو له دې ټولنې سره یوځای او نوم يېG ۷ شو.
د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته، په کال ۱۹۹۸ کې روسیه هم لهG ۷ سره یوځای او په دې توګه دا ډلهG ۸ اعلان شوه. په اولو کلونو کې، روسيې د G ۸ هېوادونو د ماليې وزیرانو په غونډو کې د ګډون حق نه درلود؛ ځکه د روسيې اقتصاد همغه برید ته نه و رسېدلی چې د نورو غړو په شان، په اقتصادي مسايلو کې برابر دريځ او حق ولري.
چین له کال ۲۰۰۵ څخه وروسته، دG ۸ د څارونکي غړي په توګه ومنل شو.[3]
دا ټولنه په لومړي سر کې، د غړو هېوادونو د اقتصادي سیاستونو د همغږۍ او ارزونې له پاره جوړه شوې وه؛ خو ژر يې فعالیتونه پراخه شول او د اقتصادي مسايلو تر څنګيې، سیاسي او امنيتي موضوعات هم د کار په اجنډا کې شامل کړل.
G۸ ډله هر وخت د مهمو نړيوالو مسايلو په هکله، خپل دريځ روښانه کوي لکه له پرمختللو او پرمختیايي هېوادونو سره د اړیکوڅرنګوالي، نړيوال امنيت، اتومي وسلې، د اقليم بدلون، له افريقا او د نړۍ د نورو بېوزله هېوادونو سره مرستې او د کورنیو ناورینونو په هکله خپل دريځ څرګندوي، لکه وزګارتيا، په منځني ختيځ کې سوله، نړيواله ترهګرۍ او داسې نور.
G۸ اجرايیوي او تقنيني ارګان نه دی؛ خو غړي هېوادونه يې د خپل اقتصادي او نظامي ځواک په توسن په نړيوالو مسايلو اغېز لري.
G۸ یا د نړۍ د ۷۰% اقتصاد خاوندان، دا وس او ځواک لري چې د نړۍ‌پېرې نورې اقتصادي ټولنې او بنسټونه، لکه نړيوال بانک، د پیسو نړيوال صندوق او ناټو دې ته اړ باسي، چې په نړيوال مسايلو او بدلونونو کې دG ۸ ګټې په پام کې ونيسي.
دG ۸ یا د نړۍ د پرمختللو صنعتي هېوادونو مشران، هر کال په يو غړي هېواد کې سره ګوري. له دې ناستې وروسته کوربه هېواد، تر بلې غونډې پورې دG ۸ مشرتوب هم په غاړه اخلي.
د هغه هېواد مشر چې هېوادیې، د اروپايي ټولنې دوره يې مشر وي او د اروپايي کمېسيون مشر دواړه، دG ۸ غونډو په اقتصادي مباحثو کې برخه اخستلای شي.[4]

---

[1] https://www.fatf-gafi.org/
[2] fatf.gafi.org
[3] نړيوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۴۱
[4] Google.com


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ